## پوهنتون علمي لقبونه

لیکوال: پوهنمل مظلوم یار

د پوهنتون علمي لقبونو او صفتونو پیژندنه د برحاله او فارغ شویو محصلینو لپاره ډېره اړینه ده په همدې موخه درته لاندې مهم اصطلاحات او لقبونه در پیژندل کیږي.

**د لیسانس دوره:** د لیسانس دورې ته BA یا BS ویل کیږي. BA د Bachelor of Art او BS د Bachelor of Science مخفف دی.

BA د ټولنیزو علومو محصلینو لپاره او BS د اینجینري یا طبیعي علومو محصلینو لپاره کارول کیږي.

**د ماسټري دوره**: د ماسټري دورې فارغو محصلینو ته MA یا MS ویل کیږي چې MA د Master of Art او MS د Master of Science مخفف دی.

د MA د ماسټري دورې د ټولنیزو علومو برحاله یا فارغو محصلینو لپاره او MS د ماسټري دورې د اینجینري یا طبیعي علومو برحاله یا فارغو محصلینو ته کارول کیږي.

**د دوکتوار محصل**: هغه محصلین چې د دوکتورا زده کړو لپاره منل کیږي هغوی ته د PhD student ویل کیږي.

**د دوکتورا کاندید:** هغه محصلین چې د دوکتورا لپاره نوماند وي هغوی ته PhD candidate ویل کیږي.

PhD : د هغه کس لپاره چې د دوکتورا سند ولري، کاریږي چې PhD د Doctor of Philosophy مخفف دی.

**له دوکتورا وروسته زده کړې:** د دوکتورا زده کړو څخه وروسته لنډې زده کړې ته Postdoctoral ویل کیږي چې معمولا څېړنیزه جنبه لري چې دې دورې ته په لنډه توګه Postdoc هم ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د طبي زده کړو محصل: Intern:** د طبي زده کړو هغه محصل ته چې په روغتون کې د طبي زده کړو په موخه بوخت وي.

MD: د MD اصطلاح عمومي طبي زده کړو لپاره کیږي چې د Doctor of Medicine مخفف دی.

**رزیډنټ :** رزیډنټ هغه طبي زده کړو محصل ته کاریږي چې په تخصص باندې مصروف وي دغې دورې ته residency ویل کیږي.

**د علمي کادر غړي:** د علمي کادر غړي ته Faculty member او یا Academic Staff ویل کیږي.

د علمي کادر غړو رتبې له Instructor یا Lecturer څخه شروع کیږي چې په نور هېوادونو کې اکثر څلور رتبې لکه: Assistant Professor ، Associate Professor، Professor او Academic Tenure لري.

په افغانستان کې بیا

**الف: د استاد مرستیال (اسیسټانټ)**

۱. پوهنیار(Teaching Assistant )
۲. پوهنمل(Senior Teaching Assistant )

**ب: استاد**

۱. پوهندوی(Assistant Professor )
۲. پوهنوال( Associate Professor )
۳. پوهاند( Professor )

**افیلیشن ( Affiliation ):** په یوې موسسې یا ادارې پورې تړلو ته وايي. مثلا کله چې یو څېړونکی مقاله لیږي نو د خپلې ادارې په اړه هم معلومات وړاندې کوي لکه: د څانګې نوم، د پوهنځي نوم، د پوهنتون نوم، ښار او هېواد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**